بسم الله الرحمن الرحيم

# د مظلومانو د حق پوښتنه به څوک کوي؟ د مسلمانانو اتل چېرې دی؟

د چیلي ولسمشر، ګابرییل بوریک د ۲۰۲۲ کال ډسمبر په ۲۱مه د دغه هېواد په پلازمېنه، سنتیاګو ښار کې په شخصي مراسمو کې وویل چې پلان لري د فلسطین په «اشغال شوو سیمو» کې سفارت پرانیزي. ده وویل چې دا به نړیوالو حقونو ته د درناوي په معنی وي. د فلسطیني ادارې د بهرنیو چارو وزیر د دغه پلان هرکلی وکړ.

دا خبر د چیلي د بهرنیو چارو وزیرې، انتونیا اورېیولا هم تایید کړ؛ نوموړې وویل: « تر اوسه د دې لپاره نېټه نه ده ټاکل شوې؛ چیلي دواړه هېوادونه، فلسطین او اسراییل، په رسمیت پېژني.»

د مظلومو خلکو او اشغال شوې سیمې ملاتړ ښه خبره ده، خو له ۱۹۴۹ راهیسې یوه ظالم ته مشروعیت ورکول بیخي ناسم کار دی. خو هېڅوک په دې اړه خبرې نه کوي او نه وايي چې ولې باید د دوو دلتونو د حللارې ملاتړ وشي چې موږ، د محمد صلي الله علیه وسلم امت یې هېڅکله نه منو (باید یوازې فلسطین وي).

موږ باید ګابرییل بوریک ته د شاباسي په ورکولو کې دومره بیړه ونه کړو او نه فکر وکړو چې فلسطین یې له اشغالګرو ازاد کړ. بوریک باید خپل د جنوبي امریکا ملګري، چیګوارا خبرو ته پام وکړي. چیګوارا فلسطیني کډوالو ته ویلي وو چې دوی باید د خپلې خاورې د ازادولو لپاره مبارزې ته دوام ورکړي. هغه ویلي وو چې د استعمار پر وړاندې له مقاومت پرته بله لار نشته. ده ویلي وو چې د فلسطینیانو قضیه ځکه «پېچلې» وه چې نویو یهودي کډوالو یې کورونه اشغال کړي. ده ټینګار کړی و چې «بلاخره باید حق بېرته واخیستل شي».

دا مه هېروئ چې په ۲۰۱۴ کې د چیلي په ګډون د جنوبي امریکا څو هیوادونو د جګړې په غبرګون کې له یهودي دولت څخه خپل سفیران راوغوښتل خو لږ وخت وروسته، چیلي او څو نورو هېوادونو بېرته خپل سفیران ور واستول. وینزویلا په جنوبي امریکا کې یوازینی هیواد دی چې تر اوسه یې یهودي دولت په رسمیت نه دی پیژندلی.

بوریک د ۲۰۲۲م کال په لومړیو کې د یوه فلسطیني ماشوم د وژنې په اعتراض کې د یهودي دولت د سفر د باورلیک له منلو انکار وکړ؛ خو دوې اونۍ وروسته یې بېرته ومانه.

توپیر نه کوي چې دا ډول کړنې د اعتراض په بڼه کوي که د ملاتړ. پر څه چې موږ پوهېږو هغه دا دي چې پر خپل کیڼ اړخي سیاست سربېره به بوریک د خپلو سیاسي هیلو لپاره جوړجاړی وکړي. د چیلي اقتصاد پر صادراتو ډېر ولاړ دی او اصلي مصرفوونکي یې امریکا او چین دي. د مسو صادراتو له دغه هېواد څخه د نړۍ د فلزاتو تر ټولو لوی تولیدوونکی جوړ کړی. په ټاکنو کې له بریا وړاندې بوریک د BDS خوځښت (د اسرایلو د انزوا، په دغه هېواد کې د پانګونې نه کولو او پر یاد هېواد د تحریمونو خوځښت) غړی و، خو اوس ښکاري چې له هغه فکر څخه یې لار بېله کړې؛ سیاستوال له ټاکنو وړاندې یو څه وايي، خو کله چې واک ته ورسېدل بل څه کوي. لکه چې وايي، د عمل غږ تر تشو خبرو لوړ وي.

په چيلي کې له ۳۵۰۰۰۰ تر ۵۰۰۰۰۰ فلسطيني الاصله وګړي ژوند کوي؛ د چيلي د پخوانی ولسمشر نيکه هم فلسطينی کډوال و. دا تر ټولو لويه عربي ټولنه ده چې له عربي هېوادونو بهر اوسېږي. له دې ښکاري چې په چيلي کې د فلسطينيانو رايه ارزښت لري او بوريک له دې خبرې ګټه اخلي؛ خو جدي اقدام نه کوي، ځکه دی پوهيږي چې د ولسمشری دورې دوام يې په پياوړي اقتصاد پورې تړلی دی. دا د دوو هېوادونو په نامه حللارې روايت د ترويجولو او پياوړي کولو لپاره هڅه ده. آيا موږ نن ورځ د خپلو خاورو د استعمار لپاره عملي او پراګماټيکه حللاره منو؟ دا يو ډېر خام روايت دی چې ژر له منځه ځي. دا فکر ناسم دی چې فلسطين به د دوو هېوادونو په نامه حللارې له لارې بشپړ ازاد شي.

د دې نظريې په منلو سره څوک تېر باسو؟ ته چې دا لولوې، ايا دا غواړې چې د هغه څه پر خلاف عمل وکړې چې ستا دين، اسلام له اووم اسمانه نازل کړي؟

آيا زموږ دين په دې برخه کې نيمګړی دی چې وايو اوس تر هېڅ حللارې عملي حللاره هم ښه ده؟ ولې داسې ناکام فکر کوو؟

ايا نړيوال نورمونه او نړيوال سياستونه که څه هم له اسلام سره په ټکر کې هم وي، بايد پلي شي. له يوې خوا وايو چې دين مو بشپړ دی؛ له بلې خوا د خپلو ستونزو حللارې په نورو سرچينو کې لټوو. ولې داسې شوو؟ ولې دا ډول فکر کوو؟

د اسلامي خاورو اوسني حکام د اسلام اتلان نه دي. سره له دې چې حکامو د عادي کولو يا نارملايزشن هڅه کوله، د نړيوال جام پر مهال له مظلومو فلسطينيانو څخه د خلکو ملاتړ د دغو حکامو تر ملاتړ ډېر زيات و. د مراکش د ټيم لوبغاړو د مراکش د خلکو او پاچا تر منځ د نظر روښانه اختلاف وښود؛ خلکو يې د مظلومو فلسطينيانو ملاتړ کاوه او پاچا يې له اسرايلو سره د اړيکو عادي کول منلي.

نړۍ نن ورځ داسې فعالو کسانو ته اړتيا لري چې د اسلام بيرغ، لواء پورته کړي. نړۍ نن له تاسو غواړي چې پورته شئ او وښاياست چې ستاسو دين د فلسطين سپېڅلې خاوره ازادولی شي. نو هغه کار به وکړئ چې تاسو ته ژوند دربښي؟

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾**[الانفال:۲۴]

*ژباړه: «ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! د الله او د هغه د پيغمبر بلنې ته لبيک ووایاست چې کله پيغمبر تاسو ته د هغه څه په لورې بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند ښونکی دی. او پوه شئ چې الله د انسان او د هغه زړه تر منځ حايل دی. او د همغه لوري ته به تاسو ورټولېږئ.*

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## عبدالناصر ابو مازين

۲۰۲۲م کال د ډسمبر ۲۸مه

۱۴۴۴ هـ . ق، د جمادي الثاني ۴مه